Preview (1 / 10) - ketabton.com



# سریزه

## کوچني انتخابونه

*ژوند د انسان د انتخابونو مجموعه ده.*

*البرټ کاموس*

ته د ژوند له بدلون سره یوازې د یو انتخاب واټن لرې؛ خو ښایي دا انتخاب ونه پېژنې. طبیعي ده چې انسان فکر کوي دا ډول ستر، ژوند بدلوونکی انتخاب باید ډېر واضیح وي. کله کله واقعا همداسې وي هم، مثلاً پرېکړه کوې چې باید بل ولایت ته لاړ شې، هلته دنده واخلې او د خپلې کورنۍ سره نوی ژوند پیل کړې یا دا چې بېرته پوهنتون ته ستون شې او خپلې زده‌کړې پوره کړې یا دا چې له هغه چا سره واده وکړې چې له ډېر وخت ته دې ورسره اړیکه لرله. بې له شکه، دا ډول سترې پرېکړې د انسان پر ژوند ډېر اغېز لري؛ خو کوچني انتخابونه هم لویې پایلې لرلی شي. زموږ ژوند تل د نورو پر ژوند او د هغوی ژوند پر موږ اغېز کوي. کله کله زموږ تر ټولو کوچنۍ پرېکړې هم داسې پایلې راوړي چې هیڅ تمه یې نه لرو. ما خپله مېرمن همداسې وپېژندله؛ د شطرنج د لوبې پر وخت نه، د پوهنتون د مهمې ازموینې لپاره د مطالعې پر مهال مې ورسره وپېژندل.

د سوداګرۍ مدیریت مضمون وروستۍ ازموینه را نږدې وه. دې مضمون زما ډېرې ورځینۍ خوښۍ له منځه وړې وې. زما د نورو ټولګوالو غوندې یې، ما ته هم ازموینې ته د مطالعې پر ځای هر بل کار ډېر زړه‌راښکونکی و. یوه ورځ مې دوه ملګرو بلنه راکړه چې مېلې ته ورسره لاړ شم، جدي پرېکړه مې وکړه چې ورسره ځم، بیا مې له ځان سره وویل: «بل ډېر مهم کار خو هم لرم؟»

Preview (2 / 10) - ketabton.com

## ۲ روحاني لارښوونې

بیرته مې په نه زړه مې پرېکړه وکړه چې مېلې ته نه بايد کتابتون ته د مطالعې لپاره لاړ شم. نه پوهېدم چې دا دومره کوچنۍ پرېکړه به زما په ژوند کې دومره ستر بدلون راولي. د مطالعې مېز مې له کاغذونو ډک و. په فکرونو کې ډوب وم، يادښتونه مې ليکل او د مديريت غټ درسي کتاب مې پاڼه - پاڼه اړولو، کتاب دومره غټ و، لکه پوهنتون د ټيليفون ډايري. (ښايي د ټيليفون ډايري لوستل به لا ترې ښه واى).

ناڅاپي غږ مې پام واړوه: «سلام.» پورته مې وکتل. د بل ټولګي نجلۍ وه؛ خو پېژندله مې. همداسې مې له څنګه تېرېدله، غوښتل يې ځان را وپېژني. څو شېبې سره وغږېدو، خبرې مو تر مذهبي مسايلو ورسېدې. عقيده يې له ما بدله وه؛ خو په دې اړه يې د خبرو زغم درلود. بحث مو تر ماښامه اوږد شو. هر څومره چې بحث ګرمېدو، د هغې چلند سړېدلو. (وروسته يې راته وويل چې که څه هم عادي انسان ورته ښکارېدم؛ خو په اصل کې د يو افراطي مذهبي کس په توګه ورمعرفي شوم!)

څو اونۍ وروسته، بيا له هماغې نجلۍ سره د سوداګرۍ مديريت په پوهنځي کې مخ شوم. زما لاس يې ونيو او په ډېره مينه يې وويل: «اى! ياد مې شول. داسې نجلۍ پېژنم چې ته خو يې بايد خامخا ووينې! هغه هم ستا غوندې عجيبه ده، کټ مټ ستا غوندې مذهبي ده!»

لومړى مې فکر وکړ چې په ما ملنډې وهي او همداسې ښکارېده هم؛ خو په رښتيا يې همداسې نجلۍ پېژنده. د هغې په واسطه مې له "ايمې فاکس" سره وپېژندل، دا نجلۍ چې بيا زما مېرمن او د شپږو اولادونو مور شوه.

دلته مې څرګند درس زده کړه: که غواړې واده وکړې؛ نو مېله پرېږده او سيده کتابتون ته لاړ شه! (هو، ښايي دا طريقه د هر چا لپاره کار ورنه کړي؛ خو که غواړې د سوداګرۍ مديريت ازموينې کې برياليى شې؛ نو ښه مشوره ده!)

Preview (3 / 10) - ketabton.com



ناسم برداشت ترې مه کوئ، مېله کومه بده خبره نه ده؛ خو دلته ما قوي پرېکړه وکړه، هغه پرېکړه چې رښتیا هم اړینه وه او لکه څنگه چې معلومه شوه، خدای له همدې ښې پرېکړې داسې کار واخیست چې هیڅکله مې یې فکر هم نه و کړی.

تل یو حقیقت شته: کومې پرېکړې چې نن کوو، زموږ د سبا ورځې کیسې جوړوي.

موږ هره ورځ، کوچني انتخابونه کوو او دا انتخابونه ورو - ورو ډېرېږي، یو له بل سره اوبدل کېږي او د ژوند د کیسې شکل جوړوي.

د همدې لپاره دا کتاب ډېر مهم دی. ما تر اوسه هیڅکله دومره عملي، ژوند بښونکی پیغام نه و درسره شریک کړی.

زه رښتیا غواړم مرسته درسره وکړم چې په شعوري ډول داسې سالمې پرېکړې وکړې چې تا له خوشحالۍ او موخو ډک ژوند ته رسوي.

په دې بهیر کې اړ یې چې د خپلو پرېکړو مسوولیت واخلې او باوري شې چې دا پرېکړې د الهي اصولو سره سمې دي او بیا یې په عمل کې په پوره اخلاص سره تعقیب کړې.

نو، که رښتیا غواړې ژوند دې بدل شي، یا که غواړې باور دې د عمل له لارې وښیې او که چمتو یې چې د ژوند کیسه دې خدای ته پرېږدې؛ نو دا کتاب ستا لپاره دی.

ته له خپل تر ټولو غوره تصمیم سره یوازې یوه پرېکړه فاصله لرې.

«هغه پرېکړې چې نن یې کوو، سبا مو د ژوند کیسې جوړوي.»

په هر صورت، هر انتخاب چې ته یې کوې، د ټول عمر پرېکړه ده. که پایله یې اوس وینې یا نه؛ نو که ته غواړې خپل ژوند بدل کړې، که غواړې ستا ژوند ستا له باور سره سم وي او که تیار یې چې خدای دې د ژوند کیسه ولیکي؛ نو دا کتاب ستا لپاره لیکل شوی.

Preview (4 / 10) - ketabton.com



بیا هم وایم چې ته له خپل تر ټولو غوره انتخاب څخه یوازې یوه پرېکړه فاصله لرې.

## لوبه جاري وساته

ما هیڅ وخت دا نه شوای اټکلولی، هغه پېژندګلوي چې ما له کتابتون سره لرله، یو وخت به ما د خپلو خوبونو له مېرمنې سره بلد کړي؛ خو رښتیا دا ده چې زموږ ډېرې پرېکړې د اټکل وړ پایلو باندې تمامېږي. که موږ زده کړو چې څنګه سمه پرېکړه وکړو، د هغو شیانو تر منځ اړیکه ټینګه ټینګولی شو چې اوس چېرته یو او چېرته رسېدل غواړو.
مثلا، ډېری هغه خلک چې روغ، خوندي او له مینې ډک ګډ ژوند لري، پوهېږي چې دغه ډول اړیکه هره ورځ لږ او کله ډېر کار غواړي.
د اولادونو سمه پالنه هم همداسې ده؛ ما شومان د جادو په واسطه په مسوول او درناوی کوونکي انسان نه بدلیږي؛ هغوی ته د مینې ډک، ثابت او ښه بېلګه لرونکي مور او پلار په کار دي. دا اصول زموږ په کاري ژوند کې هم صدق کوي.
بریالی دندې د بخت یا چانس پایله نه وي، بلکې د سخت کار، هدفمند تمرکز او حساب شوي خطرونو پایله وي.
البته استثنا تل وي. موږ ټولو داسې ودونه لیدلي چې د دوام لپاره یې دواړو خواوو ډېر زیار ایستی؛ خو بیا هم په طلاق پای ته رسېدلي.
داسې ماشومان شته چې له ډېرو مهربانو والدینو سره لوی شوي؛ خو بیا هم ځینې وخت له سختو ستونزو سره مخ شوي.
داسې شرکتونه شته چې له یو ښه مشرتابه سره، بیا هم کمزوري شوي؛ خو عموما که ته موخه لرې، باید داسې پرېکړې وکړې چې تا هماغه لوري ته بوځي.

Preview (5 / 10) - ketabton.com

## ۵ روحاني لارښوونې

زما یو ملګری "انډي ستنلي" په خپل غوره کتاب "د اصل مسیر اصـول" کې وایي: «مقصد لوری ټاکي، نه نیت.»

که ته غواړې د ژوند کیسه داسې جوړه کـړې چـې پـرې وویـاړې، بایـد کوچني؛ خو ژوند بدلوونکي انتخابونه وکړې او بیا پرې هـره ورځ عمـل وکړې. تر ټولو غوره پرېکړه تل ستا راتلونکې پرېکړه ده.

هره پرېکړه باید تا هغه څه ته نږدې کړي چې خدای ستا لپاره جوړ کړي او ستا ژوند باید د داسې کیسې خوا تـه بوځـي چـې پـه ویـاړ یـې نـورو ووایې او هغوی ته الهام شي. اکثره خلک داسې فکر کوي چې بریـالیو کسانو به یوازې مهمې او لویې پرېکړې کړې وي؛ خو حقیقت برعکس دی.

همدا واړه انتخابونه چې د چا ورته هیڅ پام نه وي، وروسته دومـره سـتر اغېز کوي چې هر څوک یې هیله لري.

کله چې دې مېړمن ناسم کار وکړي؛ خو ته یې وبخښـې او کینـه لـه زړه وباسې، دا کار دې څوک نه ویني؛ خو اغېز یې ستا پـه ګـډ ژونـد کـې څرګندېږي.

خلک ښـایي ووایـي چـې ما شومان دې ډېـر ښـه دي؛ خـو پـه دې نـه پـوهېږي چـې دا پوخـوالی د وخـت پـه تېرېـدو، د کوچنیـو انتخـابونو، ورځنیو چوکاټونو او کوچنیو اصلاحاتو له امله راغلی دی.

ملګري به دې ګوري چې ته کاري پرمختګ کوې؛ خو نـه بـه پـوهېږي چې څو وارې دې اداري پالیسۍ له پامه غورځولي او یـوازې دې خپـل غوره کار کړی دی.

حتی ملګري به دې د فراغت پـه مراسـمو کـې حـاضر وي؛ خـو نـه بـه پوهېږي، په داسې حال کې چې نورو خلکو مېلـې کـولې او وخـت یـې ضایع کاوه، تا څو شپې تر ناوخته مطالعه کړې.

Preview (6 / 10) - ketabton.com

## ٦ روحاني لارښوونې

همدا کوچني انتخابونه چې د چا ورته پام نه وي، داسې اغېزې لري چې هر څوک يې غواړي.

که ته يو ګام شاته لاړ شې او خپل ژوند ته وګورې؛ نو و به وينې چې هره پرېکړه ارزښت لري، حتی هماغه کوچنۍ پرېکړې هم ستر ارزښت لري چې عادي او بې‌اهميته ښکاري.

زموږ ډېرې ورځنۍ پرېکړې داسې وي چې له پام پرته کېږي، يعنې تقريبا د عادت له مخې يې کوو، لکه دا چې هر ورځ کار ځای ته تګ کې هماغه پخوانۍ لاره باندې ځو، يا کله چې لږ وخت پيدا کړو، سمدلاسه ټولنيزو شبکو ته ورځو.

هره ورځ دا پرېکړه کوو چې څه واغوندو. چيرته تفريح ته لاړ شو. بل ځل سره کله کينو. يو راپور به څنګه تشريح کړو. بيګا ته به څه خورو.

عصب‌پوهان وايي چې کله موږ په ذهن کې د يو څه په اړه پرېکړه کوو؛ نو مغز مو د انتخابونو په ارزونه پيل کوي، يو په بل پسې يې ختموي، تر دې چې تر ټولو بهترين انتخاب ته ورسېږي؛ خو وروسته بيا دا کوچنۍ پرېکړې دومره عادي شي چې نور ورباندې فکر نه کوو، يوازې اتومات پېښېږي او دا منطقي هم ده، ځکه د دې ورځنيو پرېکړو پايلې دومره کوچنۍ وي چې موږ يې ډېر نه احساسوو. مثلاً که ته هم زما غوندې يې؛ نو هغه کالي به اغوندې چې پاک وي او ډېر ګونځې نه وي، يعنې کار او چاپېريال سره مناسبې وي. څه چې په کور کې پخېږي، په خوړلو کې به يې خبرې او کبر نه کوې (د ماشومان غوندې نه چې دا خورم، دا نه خورم) يا به هغه خواړه هم په شوق خورې چې په يخچال کې پاتې وي؛ خو اصلي خبره دا ده چې همدا په ظاهره بې‌ارزښته پرېکړې سره را جمع کېږي، په عادت بدلېږي او دا عادتونه ورو - ورو ستا د ژوند کيسه بدلوي.

Preview (7 / 10) - ketabton.com

## ۷ روحاني لارښوونې

زه به د هغه کارونو څو مثالونه درکړم چې ډېری خلک يې کوي؛ خو که يې فکر کړی وای، هيڅکله به يې نه وو کړي:

- اکثره خلک چې سګرټ څکوي، هيڅکله دا پلان نه لري چې په وژونکی شي عادت شي؛ دوی يوازې غوښتل يو ځل يې وازمايي.
- هغه کسان چې اختلاس کوي، معمولاً يې موخه دا نه وي چې له خپل کارکوونکي غلا وکړي؛ هغوی ښايي يوازې د غرمې ډوډۍ لپاره له بکسه د څو روپيو له پوره پيل کړی وي.
- څوک چې نامشروع اړيکې لري، يوه ورځ له خو به را پورته نه شول چې ووايي: "که په دفتر کې له هغې نجلۍ سره اړيکه ولرم، مېرمن به مې ناراحته نه شي!؟" نه، بلکې هر څه له هغه وخت پيل شوي وي چې دوی له يوې ناستې وروسته لږ سره پاتې شوي وي، ځکه د همکارۍ پاملرنې ورته خوند ورکړی وي.
- ډېری ناکامه کاروباريان د ماتې پلان نه لري؛ يوازې يې بوديجه زياته مصرف کړی وي او د خطر سمه ارزونه يې نه وي کړې.
- هغه کسان چې په نشه‌يي درملو معتاد شوي، دوی دا نه غوښتل چې د نشه‌يي درملو د استعمالولو وروسته په ډرېورۍ کې د ناسم چلند له امله ونيول شي؛ يوازې د درد لږ ارامول يې غوښتل.

د داسې ستونزو مشاهده اسانه ده او په اسانۍ ويلی شو: هيڅکله به داسې ونه‌کړم!

هيڅوک نه غواړي چې د خپل ژوند کيسه د پټ اعتياد له کبله خرا به کړي. هيڅ مېرمن نه غواړي چې د ژوند کيسه يې له غيبت، غلا او نورو ناروا ډکه وي.

دا فکر اسانه دی چې: زه نه معتاد کېږم، نه اختلاس کوم، نه خيانت کوم، نه د شرکت بوديجه ضايع کوم، نه د اړتيا پرته د درد درمل اخلم.

Preview (8 / 10) - ketabton.com



خو رښتیا دا دی: ته د ژوند د بدلون لپاره یوازې د یوې پرېکړې په فاصله کې ولاړ یې.
تر ټولو غوره پرېکړه هغه ده چې همدا اوس یې کوې.

## ژوند څو انتخابه ازموینه ده

ښه خبره دا ده چې د ژوند یوه لویه پرېکړه دې نه یوازې له بدیو ژغورلی شي، بلکې دا ځواک لري چې په تا کې ښېګڼې پیدا کړي، سمه لاره در وښيي او داسې انتخابونو سره دې مخ کړي چې خدای ج سره ستا اړیکه لا قوي کوي.

کېدای شي دا خبره درته مهمه ښکاره نه شي؛ خو که نن خپله ډوډۍ له کوره یوسې، همدغه کار دې هغه لور ته بیولی شي چې بې‌پوره او مالي ارامه ژوند درته برابر کړي. ښايي زړه دې وغواړي چې کور ته لاړ شې، پر کوچ کینې، چپس وخورې او فلم وګورې؛ خو د دې پر ځای بدني تمرین ته لاړ شې، همدغه تمرین کولی شي څو کاله ستا عمر زیات کړي. یا هم ملګري ته یوازې یو زنګ یا پیغام کېدای شي تا د یوازیتوب له هغو غرقوونکو څپو خلاص کړي چې ژور خفګان ته دې کشوي.

ښايي هغه پخوانۍ جمله دې اورېدلې وي: «لیونتوب دا دی چې یو کار بیا - بیا کوې؛ خو د بېلابېلو پایلو تمه لرې.» حتی که ښه پوهېږو چې دا کار مو تاواني کوي، ځینې وختونه یې بیا هم کوو، ځکه دا راته لنډمهاله خوند یا سکون راکوي. موږ پوهېږو چې باید ښه خواړه وخورو، په ځانګړي ډول که وزن کمول غواړو یا روغتیايي ستونزې لرو؛ خو کله چې څوک د دفتر دروازه خلاصوي او تازه کلچې ورسره وي، دا خبره مو هیرېږي. زموږ ډېری خلک دا کوچني انتخابونه له هغه لویو بدلونونو سره نه شي تړلی چې په ژوند کې یې غواړي. زه به درته دا ووایم چې

Preview (9 / 10) - ketabton.com

## ۹ روحاني لارښوونې

زما په باور، تر ټولو غوره پرېکړه دا ده چې ته د دین پیروي او خدمت وکړې؛ خو دا یوازې یوه پرېکړه نه ده چې یو ځل یې وکړې او بیا یې یوازې د جمعې پر ورځو کې درياده کړې.

هو، ډېرى خلك شېبه په شېبه په یاد لري چې دین یې د ژوند په چارو کې داخل وي؛ خو تر هغې وروسته هره ورځ او هره لحظه باید پرېکړه وکړو چې ځان هیر کړو او د دین لاره تعقیب کړو. که ته ډېر مذهبي هم نه یې، بیا هم باید د نورو خلکو غوندې هره ورځ داسې پرېکړې وکړې؛ نو هیله لرم چې په پراخه ذهن دا ولولئ.

کېدای شي دا خبره درته تکراري ښکاره شي؛ خو زه باور لرم چې اسلامي لاره ستا د ژوند کیسه د تل لپاره بدلولی شي. زه پوهېږم ته به ووایې: "اسلام، اسلام! دا مې ډېر اورېدلي، بس دی!"

په ځانگړي ډول که ته د هغو کسانو تر څنگ لوی شوی یې چې جومات ته تلل؛ خو عمل یې له عقیدې سره برابر نه و، دا خبره به بیا ډېره ذهن ته درځي. زه خپله له دې ټولو پړاوونو تېر شوی یم.

خو زه دا خبرې نه کوم. غواړم چیلنج دې کړم چې له ځان‌محورۍ تېر شې او ځان ته رښتیني، زړوره او صادقه کتنه وکړې. که د پوچې احساس کوې او تل د "ښه څه" په لټه کې یې؛ نو پوه شه چې ته د الهي لورې پر ځلورلاري ولاړ یې. که زرگونه "ملگري"، "تعقیبونکي یا فالوورز" او "لایکونه" لرې؛ خو بیا هم لویه خلا لرې؛ نو ته پوهېږې چې څه باید بدل شي. کېدای شي له همدې امله دې دا کتاب اخیستی وي. ښایي دا هماغه څه وي چې خدای یې ستا لپاره غواړي. که سترگې دې پرانیزې، باور لرم چې خدای به دې په نرمه او مهربانه توگه، گام پر گام او پرېکړه پر پرېکړه رهبري کړي. کېدای شي هغې نړۍ ته نه چې ته یې همیشه غواړې، بلکې هغې ته چې هغه یې ستا لپاره غواړې. خدای تا دومره خوښوي چې انتخاب تا ته پرېږدي.

Preview (10 / 10) - ketabton.com



«که ته خپلې سترګې پرانيزې، زه باور لرم خدای به دې ورو - ورو او ګام پر ګام رهبري کړي.»

## انتخاب ستا په لاس کې دی

په پای کې وايم، دا انتخاب ستا په لاسه کې دی چې پر څه باور ولرې؟ د چا لپاره ژوند کول غواړې؟ او د څه شي ملاتړ او دفاع کوې؟ زه باوري يم چې مرسته درسره کولی شم او داسې وسيلې به درکړم چې د خدای ج په مرسته بهترينې پرېکړې وکړې، هماغه پرېکړې چې په خپل پاتې ژوند کې هره ورځ ورسره مخ يې. دا هيڅ مهمه نه ده چې ته اوس د ژوند په کوم پړاو کې ولاړ يې، ستا راتلونکې او ژوند بدلونکې پرېکړه يوازې په تا پورې ځانګړې ده. کېدای شي لا له وړاندې دې ځان کوم خدمت ته وقف کړی وي او اوس دې درک کړې وي چې بايد د اړيکو، کورنۍ جوړولو، د دندې بدلولو، يا بل ايالت ته د کډې کولو په اړه ځينې مهمې پرېکړې وکړې.

هغه مفکورې چې زه به يې په دې کتاب کې درسره شريکې کړم، مرسته درسره کوي چې ستا ټولې پرېکړې، ستا له باور او سترو ارزښتونو سره سمې شي. په دې کتاب کې، به موږ د خدای حکمت ولټوو چې ووينو ته څنګه په اوو مهمو برخو کې غوره پرېکړې کولی شې. هره برخه له بنسټيزې پرېکړې پيلېږي چې له وياړه ډک ژوند په جوړولو کې درسره مرسته کوي. مهمه دا ده چې کله ته د پرېکړې کولو طريقه بدله کړې، هغه کيسه ويلی شې چې خدای ج يې ستا په خوله ويل غواړي. کله چې ته يو په بل پسې بهترينې پرېکړه کوې؛ نو ته به د خپل ژوند کيسه وينې چې راڅرګندېږي، هماغه کيسه چې خدای ج يې ستا په خوله ويل غواړي او د هغه په مرسته به، د هغې ځواکمنې ازادۍ څخه استفاده وکړې چې خدای د ژوند بدلولو لپاره درکړې. که د خپل اوسني ژوند

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/jSUVL8qvtHn

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.